# اووم لېکچر  کره کتنه {تنقید}

پښتو ډيپارټمنټ

يونيورسټي آف بلوچستان کوئټه

په دې لېکچر کښې به د تنقيد د ذيلي مکتبونو پر موضوع بحث کيږي

د تنقيد مشهور قسمونه دا دی

تشريحي تنقيد

سائنسي تنقيد

تقابلي تنقيد

روماني تنقيد

جمالياتي تنقيد

- تاثراتي تنقيد
- تاريخي تنقيد
- عمراني تنقيد
- نفسياتي تنقيد
- مارکسي تنقيد
- اسلوبياتي تنقيد
- ساختياتي تنقيد
- په جديد ادب څه نور مکتبونه سته چي د وخت سره به واضح سي .

# تشريحي تنقيد .

تشريحي تنقيد د تنقيد و هغه مکتب ته وئيل کيږي چي په هغه کښي د فنپارې پر هر جز باندي بحث کيږي په باقاعده ډول يې د فنپارې تشريح کيږي ځکه خو و دې قسم تنقيد ته توضيحي تنقيد هم ئيل کيږي

"تشريحي تنقيد کښي د فنپارې يا ليک تشريح يا وضاحت کولے شی ځکه ورته توضيحی تنقيد هم وئيلے شي"

حنيف خليل تنقيد په پښتو ادب کښي

- تشریحي تنقید په جمالیاتي’ روماني’عمراني او د تنقید په نورو
- مکتبونو کښي هم کېداۍ سي

د دې تنقید اصل مقصد د فنپارې د بنیادي عناصرو او خصوصیاتو شرح او وضاحت کول دي ځکه خو موږ دغه تنقیدي مکتب د ډیرو مکتبونو سره اړه لرونکی مکتب بولو .په تشریحي تنقید کښي څه خاص هغه اصول نه وي لکه په تقابلي یا په تاریخي او په تاثراتي تنقید کښي وي

په دې تنقید کښي په عامه اصطلاح د فنپارې هر اړخیزه تشریح کیږي

# سائنسي تنقید .

د تنقید دا مکتب په اصل کښي د رومانوي ‘تاثراتي او تشریحي مکتبونو په رد عمل او مخالفت کښي منځته راغلی دی

د تنقید په دغه راوړل سوو مکتبونو کښي عموماَ فصلې د داخلي تصوراتو په رڼا کښي کیږي

د دې په ضد کښي په سائنسي تنقید کښي نقاد د یو سائنسدان غوندي ځان ښکاره کوي د فن پارې تجزیه د غیرجانبداره په

هر اړخیزه کوي په دې قسم تنقید کښې نقاد د خاص د یو سائنسدان غوندي نتیجه ورکوي .

" تنقید کا ہر وہ طریقہ جس میں نقاد علمی انداز نظر اپنا کر کسی سائنس دان جیسی غیرجانبداری سے کام لیتے ہوئے ذاتی پسند و ناپسند اور نجی تعصبات سے ماورا ہو کر تخلیق کی چھان پھٹک کرتا ہو سائنٹیفک تنقید کہلاتی ھے "

ډاکټر سلیم اختر تنقیدی دبستان ص ۶۶

د تنقيد دا مکتبه فکر په خپل ځان کښي دوه نور ښاخونه هم لري چي يوه ته تجزياتي او و بل ته استقرائي کره کتنه وائي دغه دوه مکتبونه هم د سائنسي تنقيد رنګه اساس يي پر سائنسي طريقه ولاړ دی .

دغه رنګه تنقيدي مکتبونه يو د بل سره ډېر نزدېکت لري

زموږ سره په دې سمسټر کښي د کره کتني دوئمه برخه ده ځکه په ډېر تفصيل کښي نه ځو .

موږ په دې نتجه رسیږو چي سائنسي تنقید و هغه تنقید ته
وئیل کیږي چي په هغه کښي د فنپارې سپیړنه په سائنسي
طریقه کار کیږي به الفاظ دیګر و دې قسم تنقید ته موږ
استقرائي تنقید هم وئیلائي سو
د تفصیلي مطالعې د پاره تاسو مجوزه کتابونه کتلائي سی
په درناوی

پای